ذهني ازموینه

# ځیرک ذهنونه



## لومړی ټوک

Ketabton.com

لیکونکی : عصمت الله حقاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځيرک ذهنونه

## لــومړی ټــوک

عصمت الله حقاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـانګـړنـې:

| | |
|---|---|
| دکــتاب نــوم | **ځيـــــرک ذهـــنونـــه** |
| ټـولوونکـــی | عصمت الله حقـــاني |
| کــــره کتونکی | خپله ليکوال |
| کمپـــــوز / ډيزاين چاری | عصمت الله حقـــاني |
| خپـــــرندوی | |
| چـــاپ کال | ۱۳۹۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ســـــریــــزه

هــر انسان تـه الله تعـالی یو استعـداد ورکړي یې بـریالی هغه شـخص دی چې دخـپل استعـداد او دالله پاک له طرفـه دورکړل شوو نعمـتونو څخه یې ښه اسـتفاده وکړه داچــې زه د (۱۳۹۶ ) هجری ش، کـال څخه په یوه اسلامې رسنـی (راډیو) کې دتخنیکار په حیث وظیفـه اجـرا کـوم او اوس هم الحمدالله په تـدریس القرآن راډیو کې دتخنیکاری وظیفه لرم .

د همدي راډیــو دمهـال ویش دمنځ څخه یـــوه خـپرونـه پـه نامه د ( ځیرک ذهنونه ) وه

داخـپرونه د ( ۱۳۹۷ )کال د لوی اخـتر په دریمه ورځ شروع ســوه

چې همدا خپرونه ما پر مخ وړلـه یعنې کوربـه یې وم

او اوس هـم دا خـپرونـه جریان لــري .

په دي خپرونـه کې اکثــره وخت ما هر اړخـیز سوالونه کول اوس ددي خپروني تقریباً یو کـال پوره کیږي

نــو اوس مي سوالونـه بدل کړي دي .

دجـسم دقـوي ساتلو لپاره باید حــرکت ورزش (سپورټ)

وکـړل سي او جـسم هم ورتـه ضرورت لـري .

نــو ددي لـپاره چې دټـولني دوګـړو شـاګردانو،

طالب العلمانو، محصیلینو او نورو افـرادو ذهنـونه

ځـیرک قـوي او پیـاوړي واوسي ښه مي وګڼـل چې یـوازي دخپروني پـه نشـر کـولو بسنه ونه کـړم نو هوډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي وکـړ چې دهـدي خپروني پـه نـامه يعني

( ځيـرک ذهنونه )

يـــو کـتاب چمتـو او ټولـني تـه يې وړانـدي کـړم.

پـه دغو سـوالـنو کـې اکثره ما دنورو کـتابـو څخه ليکـلي خو ځيني يې مـا خپـله هم ليکلي دي .

داچــې ځيرک ذهنونه اوس ستـاسـو تـر لاسو درسيدلي دی هيله ده خوښ شوی مو يې او مـا پـه خپلو نيکو دعاګانو کې هيـر نکړي .

پـــــــــــه درنښـــــــــــت

عـصمت الله حقـانـــــي

يـــادونـــــــــه

داچـــې هـر انسـان له نيمګړتـياوو خالـي نه دی ، نـو زمـا څخه بـه هـم پـه نـــومــوړي کـتاب کـې شـايـد غـلطی سوي يې نـو لهذا بخښنه راتـه وکـــــړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډالــــۍ دي وي

زمـــا ټـــولـــوخـــوږو ملګرو تــــه او همــــدارنګه

دتـــــــدريس القـــــران راډيـــــو ټولو مينوالـــو تـــه .

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي پوښتــــني

۱ **سوال:** پرحضرت عیسي ع کوم کتاب نازل سوی دی ؟

**جواب** : پرحضرت عیسی ع انجیل کتاب نازل سوی دی .

۲ **سوال:** داسلام دریمه بناء څه شي ده ؟

**جواب** : داسلام دریمه بناء زکات دی .

۳ **سوال:** حضرت عمرفاروق رض څو کاله خلافت وکړی ؟

**جواب** : حضرت عمر رض دري ۳ کاله خلافت وکړی .

۴ **سوال:** بسم الله شریفه له څو حروفو څخه جوړه سوی ده ؟

**جواب** : بسم الله شریفه له (۱۹) حروفو څخه جوړه سوي ده .

۵ **سوال:** قران کریم څو سورتونه لري ؟

**جواب** : قران کریم (۱۱۴) سورتونه لري .

۶ **سوال:** په هجرت کې د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) ملګري څوک و ؟

**جواب** : په هجرت کې ابوبکر صدیق رض د محمد (صلی الله علیه وسلم ) ملګری و .

۷ **سوال:** تسمیه څه ته ویل کیږي ؟

**جواب** : تسمیه ( بسم الله الرحمن الرحیم ) ته ویل کیږي .

۸ سوال: حضرت علي رض د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) څه و ؟

**جواب** : د اکا زوی یی و .

۹ **سوال:** ثلث قران کوم سورت ته ویل کیږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : ثلث قران سورت اخلاص ( قل هوالله ) ته ویل کیږي .

۱۰ **سوال:** دعلم سمندر کوم صحابي ته ویل کیږي ؟

**جواب** : حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته ویل کیږي .

۱۱ **سوال:** لفظ د (قرآن) په قرآن کریم کې څو ځایه راغلی دی ؟

**جواب** : لفظ د (قرآن) په قرآن کریم کې [۶۶] ځایه راغلی دی .

۱۲ **سوال:** نبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) په مدینه منوره کې څو کاله تیر کړه ؟

**جواب** : په مدینه منوره کې یې لس کاله تیر کړه .

۱۳ **سوال:** داسلامي دولت لومړی سفیر څوک و ؟

**جواب** : حضرت حارث بن عمیر رضی الله عنه و .

۱۴ **سوال:** دخندق په غزا کې دمسلمانانو شمیر څو تنه و ؟

جواب : دخندق په غزا کې د مسلمانانو شمیر (۳۰۰۰) تنه و .

۱۵ **سوال:** داسلام څو رکنونه دي او کوم کوم دي ؟

**جواب** : داسلام پنځه رکنونه دي ۱ کلمه ۲ لمونځ ۳ زکات ۴حج ۵ روژه .

۱۶ **سوال:** امام بخاري صاحب کله وفات سو ؟

**جواب** : امام بخاري صاحب په (۲۵۶) هجري کال وفات سو .

۱۷ **سوال:** دقرآن شریف د رکوعو شمیر څو دی ؟

**جواب** : دقرآن شریف درکوعو شمیر (۵۴۰) دی .

۱۸ **سوال:** اسلامي کال څو ورځې دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : اسلامي کال (۳۵۵) ورځي دی .

۱۹ **سوال:** دحضرت عمر رض په امر کوم دوه ښارونه جوړ سوه ؟

**جواب** : د عمر رض په امر بصره او کوفه دوه ښاره جوړسوه .

۲۰ **سوال:** هغه کوم پیغمبر و چې په ژبه کې بندیدی ؟

**جواب** : حضرت موسی علیه السلام و .

۲۱ **سوال:** آدم ع او شیث ع څه سره کیدل ؟

**جواب** : آدم ع او شیث ع پلار او زوی وه .

۲۲ **سوال:** امام بخاري صاحب په کوم ښار کې پیداسوی دی ؟

**جواب** : امام بخاري صاحب په بخارا کې پیداسوی دی .

۲۳ **سوال:** په قرآن شریف کې دلمانځه حکم څو واره راغلی دی ؟

**جواب** : په قرآن شریف کې دلمانځه حکم ( ۷۰۰ ) واره راغلی دی .

۲۴ **سوال:** په قرآن کریم کې ترټولو زیات کوم حرف (توری) راغلی دی ؟

**جواب** : د الف ( ا ) توری ترټولو زیات ذکر سوی دی .

۲۵ **سوال:** اخري لوی عذاب پر کوم قوم باندي راغی ؟

**جواب** : اخري لوی پر ثمودیانو باندي راغی .

۲۶ **سوال:** دحضرت ابوبکر صدیق رض دخلافت موده څو کاله وه ؟

**جواب** : دابوبکر صدیق رض دخلافت دوره ( ۲ ) کاله وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷ سوال: بېړی ( کښتی ) کوم نبي ايجاد کړه ؟

**جواب** : نوح ع ايجاد کړه .

۲۸ **سوال:** دمديني منوري پخوانی نوم څه و ؟

**جواب** : دمديني منوري پخوانی نوم يثرب و .

۲۹ **سوال:** دخوبونو معنا کوم پيغمبر کوله ؟

**جواب** : حضرت يوسف ع .

۳۰ **سوال:** دنبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) ددوو لمسيانو نومونه څه وه ؟

**جواب** : حسن او حسين رض .

۳۱ **سوال:** په نفلي لمونځونو کې تر ټولو لوړه درجه دکوم لمانځه ده ؟

**جواب** : په نفلي لمونځونو کې لوړه درجه د تهجد دلمانځه ده .

۳۲ **سوال:** دقرآن کريم لومړی حافظ څوک دی ؟

**جواب** : دقرآن کريم لومړنی حافظ محمد ( صلی الله عليه وسلم ) دی .

۳۳ **سوال:** د نوح ع لقب څه و ؟

**جواب** : د نوح ع لقب شيخ الانبياء و .

۳۴ **سوال** : په قرآن کريم د آدم ع نوم څو واره راغلی دی ؟

**جواب** : په قرآن کريم کې دآدم ع نوم (۲۵) واره راغلی دی .

۳۵ **سوال:** ابن مريم کوم پيغمبر ته ويل کيږي ؟

**جواب** : حضرت عيسی ع ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۶ **سوال:** لــومړی نــوکان کــوم پيغــمبر کــاټ کــړه ؟

**جواب** : ابراهيـــم ع .

۳۷ **سوال:** تر ټولو لومړی وحي په کوم ځای کې نازلي سوي ؟

**جواب** : لومړی وحي په غار حرا کې نازلي سوي .

۳۸ **سوال:** نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) دطايف په سفر کې دچا سره اوسيده ؟

**جواب** : دعقبه بن ربيعه سره اوسيده .

۳۹ **سوال:** دحضرت اسماعيل ع لقب څه و ؟

**جواب** : د اسماعيل ع لقب ذبيح الله و.

۴۰ **سوال:** د محمد (صلی الله عليه وسلم) نيکه عبدالمطلب دڅو کالو په عمر وفات سو ؟

**جواب** : دمحمد (صلی الله عليه وسلم) نيکه د ( ۹۴ ) کالو په عمر وفات سو .

۴۱ **سوال:** دابوجهل معنا څه ده ؟

**جواب** : دناپوهی پلار .

۴۲ **سوال:** د آدم ع لقب څه و ؟

**جواب** : د آدم ع لقب ابوالبشر و .

۴۳ **سوال:** ذکريا ع او يحی ع سره څه وه ؟

**جواب** : پلار او زوی .

۴۴ **سوال:** په قرآن کريم کې کوم آيت دی چې د آيتونو سردار يې بولي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : هغه آيت د آيت الکرسي آيت دی .

**۴۵ سوال:** داسلام په لاره کې تر ټولو لومړنۍ ښځينه شهيده څوک وه ؟

**جواب** : داسلام په لاره کې تر ټولولومړی ښځينه شهيده بي بي سميه رض وه .

**۴۶ سوال:** ابوالانبياء دکوم پيغمبر لقب و ؟

**جواب** : ابوالانبياء د حضرت ابراهيم ع لقب و .

**۴۷ سوال:** د ثمودو قوم ته کوم پيغمبر ليږل سوی و ؟

**جواب** : حضرت صالح عليه السلام .

**۴۸ سوال:** دجاهليت په وخت کې تر ټولو لوی بت څه نوميدی ؟

**جواب** : دجاهليت په وخت کې ترټولو لوی بت ( هبل ) نوميدی .

**۴۹ سوال:** په قرآن شريف کې د حضرت يوسف ع نوم څو واره راغلی دی ؟

**جواب** : په قرآن شريف کې د حضرت يوسف ع نوم ( ۲۷ ) واره راغلی دی .

**۵۰ سوال:** په قرآن کريم کې د ابراهيم ع بيان څو واره راغلی دی ؟

**جواب** : په قرآن کريم د ابراهيم ع نوم ( ۶۹ ) واره راغلی دی .

**۵۱ سوال:** په قرآن کريم د بدر دغزا ورځې ته په کوم نامه سره ويلي دي ؟

**جواب** : په قرآن کريم د بدر دغزا ورځې ته يې په ( يوم الفرقان ) ويلي دي .

**۵۲ سوال:** هغه کوم لمونځ دی چې په هغه کې دقرآن شريف تلاوت نه کيږي ؟

**جواب** : هغه د جنازي لمونځ دی .

**۵۳ سوال:** دباران د اوربښت لپاره کوم لمونځ اداکيږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : د استسقاء لمونځ .

۵۴ **سوال:** په قرآن شريف کي ترټولو لږ کوم حرف راغلی دی ؟

**جواب** : په قرآن شريف کي ترټولو لږ د ( ظ ) حرف راغلی دی .

۵۵ **سوال:** دحضرت ابراهيم ع ميرمن څه نوميدله ؟

**جواب** : بي بي ساره ( رض)

۵۶ **سوال:** رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) تر پيغمبری مخکي خلګو په کوم نامه يادوی ؟

**جواب** : خلګو د ( صادق امين ) په نامه يادوی .

۵۷ **سوال:** قرآن شريف څو منزله دی ؟

**جواب** : قرآن شريف ( ۷ ) منزله دی .

۵۸ **سوال:** افغانستان ته د کوم خليفه په وخت کي اسلام راغی ؟

**جواب** : افغانستان ته د حضرت عثمان رض په خلافت کي اسلام راغی .

۵۹ **سوال:** رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) خپله په څو غزاګانو کي ګډون کړی دی ؟

**جواب** : رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) خپله په ( ۱۷ ) غزاګانو کي ګډون کړی دی .

۶۰ **سوال:** رکوع په لمانځه کي څه شي ده ؟

**جواب** : رکوع په لمانځه کي فرض ده .

۶۱ **سوال:** لومړی وحي په کومه اسلامي مياشت کي نازلي سوي ؟

**جواب** : لومړی وحي د روژي مبارکي په مياشت کي نازلي سوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۲ **سوال:** په نړی کې کوم کتاب زيات چاپ سوی دی ؟

**جواب** : قرآن کريم زيات چاپ سوی دی .

۶۳ **سوال:** آدم ع په کومه لويه وچه کې ژوند کاوه ؟

**جواب** : د آسيا په لويه وچه کې .

۶۴ **سوال:** هغه کوم سورت دی چې ټوله دعا دی ؟

**جواب** : هغه دسورت فاتحي سورت دی ( الحمدالله ) .

۶۵ **سوال:** هغه کوم پيغمبرو چې دري ورځې يې دخبرو کولو څخه روژه ونيول ؟

**جواب** : هغه پيغمبر حضرت ذکريا عليه السلام و .

۶۶ **سوال:** نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) په مدينه منوره کې څو کاله تير کړه ؟

**جواب** : نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم )په مدينه منوره ( ۱۰ ) کاله تير کړه .

۶۷ **سوال:** دقيامت په ورځ لومړی کومه پوښتنه کيږي ؟

**جواب** : دقيامت په ورځ لومړی دلمانځه پوښتنه کيږي .

۶۸ **سوال:** حضرت آدم ع ته تر ټولو دمخه کومي ملايکي سجده وکړه ؟

**جواب** : تر ټولو دمخه حضرت اسرافيل ع سجده وکړه .

۶۹ **سوال:** خالد بن وليد په کوم ځاي کې دفن دی ؟

**جواب** :  خالد بن وليد په سوريه کې کې دفن دی .

۷۰ **سوال:** په قرآن شريف کې هغه کوم سورت دی چې په يو وار ويلو سره يې دلسو سيپارو ثواب ترلاسه کيږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : هغه دسورت اخلاص سورت دی ( قل هوالله ) .

۷۱ **سوال:** جبرائل ع لومړی کومه کليمه و محمد (صلی الله عليه وسلم) ته وويل ؟

**جواب** : جبرائل ع لومړی د اقرأ کليمه و محمد (صلی الله عليه وسلم) ته وويل.

۷۲ **سوال:** دقرآن کريم دري نومان ووايه ؟

**جواب** : ۱ الفرقان ۲ الکتاب الذکر ۳ الکتاب

۷۳ **سوال:** دابوبکر رض لقب څه و ؟

جواب : الصديق .

۷۴ **سوال:** بلال حبشي رض د چا له خوا آزاد کړل سو ؟

**جواب** : حضرت ابوبکر صديق رض آزاد کړی .

۷۵ **سوال:** دلمانځه څلورم فرض څه شي دي ؟

**جواب** : دلمانځه څلورم فرض رکوع ده .

۷۶ **سوال:** په قرآن کريم کې لومړی سجده تلاوت په کومه سيپاره کې راځي ؟

**جواب** : لومړی سجده تلاوت په ( ۹ ) سيپاره کې راځي .

۷۷ **سوال:** د قرآن شريف زړه کوم سورت ته ويل کيږي ؟

**جواب** : دقرآن شريف زړه سورت ياسين ته ويل کيږي .

۷۸ **سوال:** داحد په جګړه کي څوتنو مسلمانانو برخه واخسته ؟

**جواب** : داحد په جګړه کې ( ۱۰۰۰ ) کسانو برخه واخسته .

۷۹ **سوال:** داوداسه څو فرض دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : داوداسه ځلور فرض دي .

۸۰ **سوال:** په قرآن کريم کې دحضرت موسی ع نوم ځوواره راغلی دی ؟

**جواب** : په قرآن کريم کې دحضرت موسی ع نوم ( ۱۳۶ ) واره راغلی دی .

۸۱ **سوال:** حضرت محمد ( صلی الله عليه وسلم ) څو کلن و چې نيکه يې وفات سو ؟

**جواب** : حضرت محمد ( صلی الله عليه وسلم ) ( ۸ ) کلن و چې نيکه يې وفات سو .

۸۲ **سوال:** دحضرت عيسی ع دپلار نوم څه شی دی ؟

**جواب** : حضرت عيسی ع پـــلار نه لــري .

۸۳ **سوال:** دحضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) مبارکه خرقه کوم پادشاه دبخارا څخه کندهار ته راوړه ؟

**جواب** : دمحمد(صلی الله عليه وسلم) مبارکه خرقه احمد شاه بابا دبخارا څخه کندهار ته راوړه .

۸۴ **سوال:** اوبه په سنت طريقه بايد څنګه وڅښل سي ؟

**جواب** : لومړی دي مخ پر قبله کښيني اوبه دي په راسته لاس په بسم الله سره وڅښل سي په دريو ساه و اوداسي نور ...

۸۵ **سوال:** په قرآن کريم کې دڅو پيغمبرانو نومونه راغلی دي ؟

**جواب** : په قرآن کريم کې د (۲۵) پيغمبرانو نومونه راغلی دي .

۸۶ **سوال:** دعربي ليکني لپاره حرکات چا وضع کړه ؟

**جواب** : حجاج بن يوسف .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۷ **سوال:** په قرآن کريم کې کوم سورت دی چې په پيل او منځ کې بسم الله لري ؟

**جواب** : هغه سورت النمل دی .

۸۸ **سوال:** دلمانځه پنځم فرض څه شی دی ؟

**جواب** : دلمانځه پنځم فرض په هر رکعت کې دوي سجدي کول دي .

۸۹ **سوال:** د يوسف ع  دپلار نوم څه شي و ؟

**جواب** : دحضرت يوسف ع دپلار نوم حضرت يعقوب ع و .

۹۰ **سوال:** هغه کوم لمونځ دی چې په خپل وخت کول يې ګناه ده ؟

**جواب** : هغه په مذدلفه کې د حاجيانو د ماښام لمونځ دی .

۹۱ **سوال:** داسلام دپنځو بناو څخه کومه يوه ټکی ( نقطه ) نه لري ؟

**جواب** : کلمه طيبه ( اوله کلمه ) .

۹۲ **سوال:** لومړی عربي ژبه چا وويل ؟

**جواب** : حضرت اسماعيل عليه السلام .

۹۳ **سوال:** عشره مبشره څه معنا ؟

**جواب** : عشره په عربي ژبه کې لسو ته وايي او مبشره معنا چې په دنيا کې زيری باندي سوی يې ، هغه لس صحابه چې په دنيا کې زيری ورباندي سوی دی .

۹۴ **سوال:** خوراک دسنتو له اړخه بايد څنګه وخوړل سي ؟

**جواب** : په سنت طريقه کښيناستل ، په راسته لاس خوړل ، په بسم الله سره پيل کول، دخپل مخ څخه خوراک کول او داسي نور..

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۵ **سوال:** داسلام په مبارک دين کي لومړی چا دغلا له امله د غله لاس پري کړی ؟

**جواب** : رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) .

۹۶ **سوال:** دحضرت علي رض دخلافت دوره څو کاله وه ؟

**جواب** : دحضرت علي رض دخلافت دوره ( ۶ ) کاله وه .

۹۷ **سوال:** هغه کوم غسل دی چې يو فرض لري ؟

**جواب** : هغه د مړي غسل دی .

۹۸ **سوال:** مدينه څه معنا لري ؟

**جواب** : مدينه په عربي ژبه کې ښار ته ويل کيږي ، ښار .

۹۹ **سوال:** دلمانځه دريم شرط څه شی دی ؟

**جواب** : دځای پاکوالی .

۱۰۰ **سوال:** دجمعي مبارکي لمونځ فرض دی که سنت ؟

**جواب** : دجمعي لمونځ واجب دی .

۱۰۱ **سوال:** هغه کوم مسجد دی چې محـــــراب نه لـــري ؟

**جواب** : کعـــــــبه شريفه .

۱۰۲ **سوال:** پيغمبـــــر صلی الله عليه وسلم » په څو کلنی کې له خديجة الکبری سره واده کړی دی ؟

**جواب** : په ( ۲۵ ) کلنــــــی کې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۳ **سوال:** پــه پيغمبرانـــو کې لومړۍ کوم پيغمبر ښوروا جوړه کـــړه؟

**جواب** : حضـــرت ابـــراهيم ع .

۱۰۴ **سوال:** تحمـــيد څه ته ويـــل کيږي ؟

**جواب** : ربنا لک الحمد .

۱۰۵ **سوال:** دابن جوزي صاحب اصلي نوم څه دی ؟

**جواب** : عبـــدالرحمن بن علـــي .

۱۰۶ **سوال:**افغانســـــتان دکوم خليفه په وخت کې فتحه سو ؟

**جواب** : حضرت عـــمر رض .

۱۰۷ **سوال:** هغه کومه سجده ده چې کله وکړل سي نو لمونځ ورسره فاسديږي؟

**جواب** : په کومه سجده کې چې پښي پورته سي .

۱۰۸ **سوال:** ابوحنيـــفه رحمة الله عليه په قوم څه شی وو ؟

**جواب** : تـــــاجک .

۱۰۹ **سوال:** هغه کوم کار دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلـــــم » په خپل ټول ژوند کې نه دی کړی مـــګر دامتـــي لپاره يې پريښودل کبره ګـــناه ده ؟

**جواب** : دپـــلار خدمـــت دی .

۱۱۰ **سوال:** دبيت المقدس پخوانی نوم څه و ؟

**جواب** : يـــــبوس.

۱۱۱ **سوال:** رسول الله صلی الله عليه وسلـــم » لومړۍ کومه ښځه په نکاح کړه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : خديجة الکبرى رض .

۱۱۲ **سوال:** مــــيلادي سنه دکوم وخت څخه شروع سوى ده ؟

**جواب** : د عيسى عليه السلام دپيدايښت څخه .

۱۱۳ **سوال:** يوسړي قسم وکړ چې نن به ټوله ورځ لمونځونه په يوه سلام سره کووم داسړى بايد څه وکړي چې حنيس نه سي ؟

**جواب** : په سفر دي ووځي ، ځکه په سفر کې ټوله لمونځونه په يوه سلام سره کيږي .

۱۱۴ **سوال:** سورة الفاتحه په کومه ســــيپاره کې ده ؟

**جواب** : په يوه کې لانه ده .

۱۱۵ **سوال:** هغه څشى دى چې لومړى نبات و وروسته حيوان سو ؟

**جواب** : دحضرت موسى عليه السلام امســــاء ( لکړه ) .

۱۱۶ **سوال:** دکال په اوږدو کې په کـــوم ځاي کې لويــه غونډه ترســره کيږي ؟

**جواب** : پــــه مکه مکرمــــه کې د حــــج پر وخت .

۱۱۷ **سوال:** هغه کوم اندام دى چې په اوداسه کې يې کله پريولل سنت وي او کله فرض وي ؟

**جواب** : د مخ دوه طرفه .

۱۱۸ **سوال:** : تر لمـر ختلو پنځلس يا شل دقيقي وروسته کوم لمونځ اداکيږي ؟

**جواب** : داشــــراق لمونځ .

۱۱۹ **سوال:** څنګه کولاى سو چې غاښونه موپاک يې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : بايد مســـواک ووهل سي ، دخوړو وروسته غاښونه پريمنځل سي ، مخکي له پروتو څخه هم بايد غاښونه پاک سي ...

۱۲۰ **سوال:** د الله ج تر تولو د خوښي نومونه کوم دي ؟

**جواب** : عـــــبد الله ، عــــبدالرحمن ... .

# هر اړخيز سوالونه

۱ **سوال:** د ختيځ نابيغه چاته ويل کيږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : سيد جمال الدين افغان ته .

۲ **سوال:** د انسان دبدن ترټولو زياتي اوبه په کوم اندام کې دي ؟

**جواب** : په سترګه کې دي .

۳ **سوال:** هغه کوم استازی و چې نه انسان و، نه ملايکه؟

**جواب** : ملاچرګک ( دسليمان عليه السلام استازی ).

۴ **سوال:** ترټولو زيات ډاکټران په کوم هيواد کې دي ؟

**جواب** : په روسيه کې .

۵ **سوال:** د انسان ککری د څو هډوکو څخه جوړه شوی ده ؟

**جواب** :

۶ **سوال:** د احمد شاه بابا مزار چيري دی ؟

**جواب** : د احمد شاه بابا مزار په کندهار کې دی .

۷ **سوال:** د هوتکيانو دوره څو کاله وه ؟

**جواب** : دهوتکيانو دوره (۳۰) کاله وه .

۸ **سوال:** ميرويس نيکه څو کاله دکندهار واکمن وو؟

**جواب** : ميرويس نيکه (۸) کاله د کندهار واکمن وو.

۹ **سوال:** دبدن دروغتيا لپاره په څلورويشت ساعتونو کې کم تر کمه بايد څو ساعته خوب وکړل سي ؟

**جواب** : دبدن دروغتيا لپاره په څلورويشت ساعتونو کې کم تر کمه بايد (۵) ساعته خوب وکړل سي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ **سوال:** دانسان په بدن کې هغه کوم هدوکی دی چې په غوښه نه ده دی پټ ؟

**جواب** : هغه هډوکی غابن دي .

۱۱ **سوال:** نوی زیږیدلی ماشوم په ۲۴ ساعته کې څو ساعته خوب کوي ؟

**جواب** : نوی زیږیدلي ماشوم په ۲۴ ساعته کې (۲۰ ) ساعته خوب کوي .

۱۲ **سوال:** د انسان د ويني ګروپونه څو دی ؟

**جواب** : د انسان د ويني ( ۴ ) ګروپونه دي .

۱۳ **سوال:** رومۍ میوه ده که سابه ؟

**جواب** : دواړه دي هم میوه او هم سابه .

۱۴ **سوال:** دلمر رڼا په څو دقيقي کې و ځمکي ته رارسيږي ؟

**جواب** : په ( ۸ ) دقيقي کې .

۱۵ **سوال:** په نړۍ کې تر ټولو زیات ځنګلونه په کوم هیواد کې دي .

**جواب** : په نړۍ کې تر ټولو زیات ځنګلونه په افریقا کې دي .

۱۶ **سوال:** احمدشاه بابا چیري پیداسوی دی ؟

**جواب** : کندهار.

۱۷ **سوال:** مار څو غوږونه لري ؟

**جواب** : مار غوږونه نه لري .

۱۸ **سوال:** هغه کوم حیوان دی چې شپږ میاشتي ویده وي او شپږ میاشتي ویښ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : چنګوښه ده .

۱۹ **سوال:** دیوه روغ اوځوان انسان زړه په دقیقه کې څو واره غورځي ؟

**جواب** : د روغ او ځوان انسان زړه په دقیقه کې ( ۷۲ ) واره غورځي .

۲۰ **سوال:** افغانستان دڅو هیوادونو سره پوله لري ؟

**جواب** : افغانستان د ( ۶ ) هیوادونو سره پوله لري .

۲۱ **سوال:** د افغانستان کومو لیکوالانو ته پنځه ستوري ویل کیږي ؟

**جواب** : علامه عبدالحی حبیبي ، قیام الدین خادم ، ګل باچا الفت ، پوهاند رښتین ، عبدالروف بینوا .

۲۲ **سوال:** دایران بخوانی نوم څه و ؟

**جواب** : پارس (فارس) .

۲۳ سوال: دانسان په بدن کې ترټولو سخته غوښه کومه یوه ده ؟

**جواب** : دانسان د زړه غوښه ده .

۲۴ سوال: ام البلاد دافغانستان کوم ښار ته ویل کیږي ؟

**جواب** : ام البلاد دافغانستان بلخ ولایت ته ویل کیږي .

۲۵ **سوال:** دافغانستان په زړه کې کوم غر پروت دی ؟

**جواب** : د هندوکش غر .

۲۶ **سوال:** داحمد شاه بابا پلار څه نومیده ؟

**جواب** : زمان خان .

۲۷ **سوال:** په یوه ثانیه کې د رڼا رفتار څو دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : ۳۰۰۰۰۰ کيلو متره .

۲۸ **سوال:** دهلمند رود څو کيلومتره اوږدوالی لري ؟

**جواب** : ۱۴۰۰کيلو متره .

۲۹ **سوال:** د مصر هيواد پايتخت څه نوميږي ؟

**جواب** : قاهره .

۳۰ **سوال:** په افغانستان کې کوم باچا ترټولو زيات حکومت کړی دی ؟

**جواب** : ترټولو زيات حکومت محمد ظاهرشاه کړی دی .

۳۱ **سواال** : ظاهر شاه څوکاله حکومت کړی دی ؟

**جواب** : يوه مياشت کم څلويښت کاله .

۳۲ **سوال:** دفلسطين هيواد پايتخت (پلازمينه) څه نوميږي ؟

**جواب** : بيت المقدس .

۳۳ **سوال:** دنړۍ ترټــولو لوی ســاعت په کوم ځای کې دی ؟

**جواب** : پـــه مــکه مــکـــرمه کې دی .

۳۴ **سوال:** دکابل رود څوکيلو متره اوږدوالی لري ؟

**جواب** : ۷۰۰ کيلو متره .

۳۵ **سوال:** دچاغوالي څخه کومي ناروغی پيښيدلاي سي ؟

**جواب** : دشکري ، لوړ فشار ...اونور.

۳۶ **سوال:** هغه څه شی دی چې هرڅومـره يې کشکوي نو لنډيـــږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : ســـــــګريــټ .

۳۷ **سوال:** يوبيلر څو ليتره دی ؟

**جواب** : ۲۳۵ ليتره دی .

۳۸ **سوال:** دروسيي هيواد پايتخت څه نوميږي ؟

**جواب** : مسکو ، نوميږي .

۳۹ **سوال:** په کوم هيواد کې اور غورځونکي غرونه ډير دي ؟

**جواب** : په جاپان کې .

۴۰ **سوال:** اوبه سپيني دي که شني ؟

**جواب** : نه سپيني دي او نه شني .

۴۱ **سوال:** دآسيا زړه کوم هيواد ته ويل کيږي ؟

**جواب** : افغانستان ته ويل کيږي .

۴۲ **سوال:** کوم مسلمان رياضي پوه په رياضي کې صفر ايجاد کړ ؟

**جواب** : محمد بــن موسی .

۴۳ **سوال:** په نـــړی کې تر ټولو زيات ځنګلـــــونه چيري دي ؟

**جواب** : په افريقا کې دي .

۴۴ **سوال:** هغه کومه لوبه ده چې دافغانستان ملي لوبه بلل کيږي ؟

**جواب** : د بزکشی لوبه ده .

۴۵ **سوال:** دافريقا په لويه وچه کې څو اسلامي هيوادونه موقيعت لري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : (۲۳) اسلامي هيوادونه موقيعت لري .

**۴۶ سوال:** د نفوسو په لحاظ دنړۍ تر ټولو لوی هيواد کوم يو دی ؟

**جواب** : چين دی .

**۴۷ سوال:** دنفوسو په لحاظ تر ټولو لوی اسلامي هيواد کوم يو دی ؟

**جواب** : اندونيزيا .

**۴۸ سوال:** دافغانستان کوم ولايت ته خاک اولياء ويل کيږي ؟

جواب : هرات ولايت ته ويل کيږي .

**۴۹ سوال:** دمفکوري دلغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : فـــــــکر.

**۵۰ سوال:** دانسان په بدن کي څو جوړي پوښتی دي ؟

**جواب** : ۱۲ جوړي پوښتی دي .

**۵۱ سوال:** دسعودي عربستان پايتخت څه نوميږي ؟

**جواب** : رياض .

**۵۲ سوال:** دمشق دکوم هيواد مرکز دی ؟

**جواب** : د سوريي هيواد مرکز دی . ( سوريه )

**۵۳ سوال:** دميرويس نيکه پلار څه نوميده ؟

**جواب** : دميرويس نيکه پلار ښالم خان نوميده .

**۵۴ سوال:** فيض آباد دکوم ولايت مرکز دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : بدخشان .

**۵۵ سوال:** دکندهار اوهرات ترمنځ څوکيلو متره لار ده ؟

**جواب** : ( ۵۶۷ ) کيلومتره لار ده .

**۵۶ سوال:** دلرغوني لغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : پخوانی .

**۵۷ سوال:** هغه کومه ميوه ده چې نوم يې دچپي او راستي خوا يو ډول ويل کيږي ؟

**جواب** : هغه ميوه ( توت ) ده .

**۵۸ سوال:** آرکوزيا دکوم ولايت پخوانی نوم و ؟

**جواب** : کندهار .

**۵۹ سوال:** افغانستان څو ولايتونه لري ؟

**جواب** ( ۳۶ ) .

**۶۰ سوال:** دعراق هيواد پايتخت څه نوميږي ؟

**جواب** : بغداد نوميږي .

**۶۱ سوال:** د نړۍ تر ټولو لويه وچه کومه يوه ده ؟

**جواب** : آسيـــــــــــــــــاده .

**۶۲ سوال:** دټولنيز لغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : اجتماعي ، ګډ .

**۶۳ سوال:** پـــه قـرآن کـــريم کـــې دکـــوم صحـــابي نـــوم راغـــلی دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : زيـــــــد رض .

۶۴ **سوال:** عناية الوالدين معنا څه ؟

**جواب** : دمور او پلار پاملرنه .

۶۵ **سوال:** په نړۍ کې تر ټولو زياته کومه ميوه خوړل کيږي ؟

**جواب** : کيله ، تر ټولو زياته خوړل کيږي .

۶۶ **سوال:** دشفاهي دلغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : په خوله ويل .

۶۷ **سوال:** دلوګر ولايت مرکز څه نوميږي ؟

**جواب** : پول عالم .

۶۸ **سوال:** دنړۍ څو کيلومتره مربع وچه ده ؟

**جواب** : دنړۍ ( ۱۵۰ ) کيلو متره مربع ځمکه وچه ده .

۶۹ **سوال:** خالد بن وليد رض په کوم ځای دفن دی .

**جواب** . سوريه .

۷۰ **سوال:** دکويټ هيواد پايتخت څه نوميږي ؟

**جواب** : کويټ .

۷۱ **سوال:** دملتيا دلغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : ملګرتيا .

۷۲ **سوال:** دځمکي او آسمان ترمنځ فاصله تقريباً څو واټن دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : ۱۵۰ میلیونه کیلومتره .

۷۳ **سوال:** زرنج ښار دکوم ولایت مرکز دی ؟

**جواب** : دنیمروز ولایت مرکز دی .

۷۴ **سوال:** دانسان په بدن کې څوسږي موجود دي ؟

**جواب** : دانسان په بدن کې ( ۲ ) سږي موجود دي .

۷۵ **سوال:** دتالقان ښار دکوم ولایت مرکز دی ؟

**جواب** : د تخار ولایت مرکز دی .

۷۶ **سوال:** احمدشاه بابا څو کاله حکومت وکړ ؟

**جواب** : ( ۱۸ ) کاله حکومت یې وکړ .

۷۷ **سوال:** دبرهم دلغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : ګډوډ .

۷۸ **سوال:** ورزش ( سپورټ ) کومي ګټي لري ؟

**جواب** : دماغ آراموي ، ویره لري کوي ، دماغي پراختیا زیاتوي ... .

۷۹ **سوال:** دروضة الاطفال سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : وړکتون .

۸۰ **سوال:** دمعاصر افغانستان بنسټ ایښودونکی څوک دی ؟

**جواب** : احمد شاه بابا دی .

۸۱ **سوال:** شازمان دلومړي ځل لپاره په څوم کال واکمني اعلان کړه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب:** په ( ۱۷۹۳ ز ) کال .

۸۲ **سوال:** څنګه کولای سو چې ستن اوبو ته واچوو ډوبه نسي ؟

**جواب** : د وازدي په غوړيو يې غوړوو .

۸۳ **سوال:** په انګلسي ژبه کې موبايل ته څه ويل کيږي ؟

**جواب** : موبايل ، ورته ويل کيږي .

۸۴ **سوال:** دمقصر دلغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : ګنهګار .

۸۵ **سوال:** دافغانستان نوم په انګليسي ژبه کې له څو تورو څخه جوړ دی ؟

**جواب** : له ( ۱۱ ) تورو څخه جوړ دی .

۸۶ **سوال:** شفتالو ، دکومي ژبي لغت دی ؟

**جواب** : پښتو او دري .

۸۷ **سوال:** په آسمان کې يو دی په افغانستان کې دوه دي په ځمکه کې نسته داخه شی دی ؟

**جواب** : د نون حرف دی ( ن ) .

۸۸ **سوال:** دپکتيا ولايت دمرکز نوم څه دی ؟

**جواب** : دګرديــز ښار .

۸۹ **سوال:** هغه څه شی دی چې له اوبو څخه پيداکيږي او هم په سره مري ( ختميږي ) ؟

**جواب** : يخی ، دی چې اوبه هم يخی کيږي او هم يخی په اوبو سره ختميږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۰ **سوال:** هغه څه شی چې سوری سوری دی بیاهم اوبه ساتلی سي ؟

**جواب** : سفـــــنج دی .

۹۱ **سوال:** دفلسطین هیواد پخوانی نوم څه وو ؟

**جواب** : کنعان .

۹۲ **سوال:** اوښ دخپل بوک څخه عمده کومي ګټي اخلي ؟

**جواب** : سترګيا په کموي ، خواړه پکي برابروي ، ځان ته اوبه پکي ساتي .

۹۳ **سوال:** ټاټوبی معنا څه ؟

**جواب** : ټاټوبی معنا هیواد .

۹۴ سوال: په آسیا کې ترټولو ګڼ میشت هیواد کوم یو دی ؟

**جواب** : ټوکـــــــيو .

۹۵ **سوال:** دیمن هیواد مرکز څه نومیږي ؟

**جواب** : صنعا .

۹۶ **سوال:** هغه کوم قفس دی چې مرغه پکي نه ساتل کیږي ؟

**جواب** : له پښتيو څخه جوړه سينه ، دانسان سينه .

۹۷ **سوال:** دطب له نظره انسان په ورځ کې باید څو ګیلاسه اوبه وڅښي ؟

**جواب** : ( ۸ ) ګیــــلاســه .

۹۸ **سوال:** په لاندي نومونو کې خاص نوم په ګوته کړی ؟

**جواب** : الف) قلم ب)کتاب (ج) قرآن کریم) سم دی د) انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۹ **سوال:** هغه کوم څښاک دی چې دغاښو په ټينګولو کې ګټور دی ؟

**جواب** : چاي دي .

۱۰۰ **سوال:** هغه کومه ژبه ده چې دنړۍ ټول انسانان په پوهيږي ؟

**جواب** : ترافيکي نښې .

۱۰۱ سوال: دتصويب دلغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : پريکړه،فيصله،حکم .\

۱۰۲ سوال: فعل دزماني له پلوه پرڅوډوله دی ؟

**جواب** : پر دري (۳) ډوله دی ، تير ، اوس ، مستقبل .

۱۰۳ سوال: دارزو دلغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : تمنا، هيله .

۱۰۴ **سوال:** په عربي ښارونوکې ترټولو لوی ښار کوم يودی ؟

**جواب** : قاهره ده .

۱۰۵ **سوال:** لاړي په خوله کې کومه ګټه لري ؟

**جواب** : خواړه پستوي ، غاښونه پاکوي ... .

۱۰۶ **سوال:** دوي کوتري دي چې والوزي ټوله دنيا ويني مګر دخپلي ځالي څخه نه وځي ؟

**جواب** : دوي سترګې دي .

۱۰۷ **سوال:** ابوظهبی دکوم هيواد مرکز دی ؟

**جواب** : عربي آمارات .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۸ **سوال:** هغه ښځی دی چې پر ديوال زړول کيږي ،پرميزدرول کيږي خو يو کال عمر لري ؟

**جواب** : جنتـــــــري .

۱۰۹ **سوال:** هغه څه شی دی چې تر نښتيځلو وروسته نــه خرڅيږي ؟

**جواب** : ليمــــو .

۱۱۰ **سوال:** تذکــره دکومي ژبــي لغات دی ؟

**جواب** : د عربـــي ژبي لغات دی .

۱۱۱ **سوال:** دزابل ولايت دمرکز نوم څه  دی ؟

**جواب** : دقـــلات ښار .

۱۱۲ **سوال:** دځمکي پر مخ دټولو اوبوپراخوالی څومره دی ؟

**جواب** : ( ۳۶۰ ) ميلونه کيلومتره مربع .

۱۱۳ **سوال:** دافغانستان ترټولو اوږد سيند کوم دی ؟

**جواب** : دهلمند سيند دی .

۱۱۴ **سوال:** هلمند ولايت څو ولسوالی لري ؟

**جواب** : ۲۲ ولسوالــــی لري .

۱۱۵ **سوال:** په کوم دين کي د يکشنبي ورځ رخصتي ده ؟

**جواب** : په عيسويت کي .

۱۱۶ **سوال:** يوسړی وايي يوچرګ مي په دوه کاله کي وخوړی دا څنګه کيداي سي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب:** نيم چرګ ديوه کال په اخره ورځ او نيم چرګ دنوی کال په اوله ورځ .

۱۱۷ **سوال:** دفارياب ولايت دمرکز نوم څه دی ؟

**جواب** : دميمنـــــــي ښـــــار .

۱۱۸ **سوال:** داسعار دلغت سمه معنا څه ده ؟

**جواب** : پيســـي .

۱۱۹ **سوال:** دافغانستان دکوم ولايت زمرود نړيوال شهرت لري ؟

**جواب** : د پنجشـــير ولايت .

۱۲۰ **سوال:** ميرويس نـــيکه څه ډول نوم دی ؟

**جواب** : خاص نوم .

۱۲۱ سوال: په نړۍ کې ترټولو ګڼ ميشت ښار کوم يو دی چې اوسيدونکي يې ډير وي ؟

**جواب** : نـــيو يارک .

۱۲۲ **سوال:** داحمد شا بابا اصلي نوم څه دی ؟

**جواب** : احمد خان .

۱۲۳ **سوال:** په حيواناتو کې زيات عمر دکوم حيوان دی ؟

**جواب** : د سمساري .

۱۲۴ **سوال:** هغه کوم لفظ ( لغت ) دی چې سم يې وليکې بيا هم خلګ ورته غلط وايي ؟

**جواب** : خپله د ( غلط ) لفظ دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۵ سوال:** هغه ښځه ده چې سیوری نه لري ؟

**جواب :** لمـــــر .

**۱۲۶ سوال:** په مثانه کې دډبرو پیداکیدل اصلي لامل یې څه دی ؟

**جواب :** د ډیرې بوري خوړل .

**۱۲۷ سوال:** په انګلیسي ژبه کې ترټولو لنډه معنا داره جمله څه ده ؟

**جواب :** I am

**۱۲۸ سوال:** دديوال په منځ کې څه شی وجود لري خاوره خښته که تيږه ؟

**جواب :** د ( و ) توری .

**۱۲۹ سوال:** دپـــروان ولایت مرکز څـــه نـــومــــيږي ؟

**جواب :** د چـــاریـــکار ښـــار .

**۱۳۰ سوال:** هغه کوم کس دی چې انسان دی خو بني آدم نه دی ؟

**جواب :** آدم علیه السلام .

**۱۳۱ سوال:** هغه کوم سمندر دی چې ددریو لویو وچو آسیا اروپا او افریقا ترمنځ پروت دی ؟

**جواب :** د مـــدیـتراني سمندر .

**۱۳۲ سوال:** ســـیب ډیر ویټامین لـــري که دسـیب پوست ؟

**جواب :** دسیب پوست نسبت سیب ته ۵ برابره زیات ویټامین لري .

**۱۳۳ سوال:** په نړۍ کې کوم هیواد دی چې زیات ګاونډیان لري ؟

**جواب :** چــــین .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۴ **سوال:** هغه کومه دروازه ده چې نه خــــلاصيږي ؟

**جواب** : خــــلاصه دروازه ده .

۱۳۵ **سوال:** انســـان څو حسونه لــــري ؟

**جواب** : پنځه ، ۱ ليدل ۲څکل ۳اوريدل ۴بويول ۵لمس کول .

۱۳۶ **سوال:** چاى کومي ګټي لري ؟

**جواب** : سترړيا ختموي ، تنده لري کوي ... .

۱۳۷ **سوال:** مســــکو دکوم هيواد پايتخت دى ؟

**جواب** : روسيه .

۱۳۸ **سوال:** دانـــسان پزه څو ډوله بويونه محسوس کولاى سي ؟

**جواب** : ۴۰۰۰ څلور زره .

۱۳۹ **سوال:** هغه کوم عدد دى چې دضرب او جمعي حاصل يې يو دى ؟

**جواب** : هغه د ۲ عدد دى .

۱۴۰ **سوال:** هغه څه شى دى چې ملکيت يې ستا دى مګر تر تا يې ستا دوستان ډير استعمالوي ؟

**جواب** : ستا نـــوم .

۱۴۱ **سوال:** کوم شى دى چې په دوو روان يې مګر کله په ۳ او کله پر ۴ دريږي ؟

**جواب** : موټر ســــايکل دى .

۱۴۲ **سوال:** دنړۍ کومي وچي دي چې په کوم حرف سره پيل سي په همهغه حرف سره ختميږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : شپږ سره دي .

۱۴۳ **سوال:** دمنځني عمر لرونکي کســـان دخپل ژوند څو کاله په خوب تيروي ؟

**جواب** : ۲۵ کـــــاله .

۱۴۴ **سوال:** هغه څشی دی چي هرځای موجود وي مګر په سترګو نه ليدل کيږي ؟

**جواب** : هـــــــوا .

۱۴۵ **سوال:** دعبدالله مــور دري زامن لري ديوه نوم ســـلام دبل نوم يي سليم ددريم زوی نوم يي څه دی ؟

**جواب** : عـــــبدالله دی .

۱۶۶ **سوال:** دغور ولايت دمرکز نوم څه دی ؟

**جواب** : د چغچران ښـــار .

۱۶۷ **سوال:** هغه څه شی دی چي پر هرڅومره کـــلک ځای ولويږي نه ماتيږي مګر که په اوبو کي ولويږي ماتيږي ؟

**جواب** : کـــــــاغذ .

۱۶۸ **سوال:** دکوم هيواد نوم دی چي دليکلو پر وخت قلم ځني پورته نسي ؟

**جواب** : مـــــصر .

۱۶۹ **سوال:** په يوه کوټه کي دوه پلرونه او دوه زامن دي دري ګيلاسه دي ګيلاسونه داسي تقسيم کړه چي هر يوه ته ورسيږي ؟

**جواب** : اصـــلاً ، دري کسان دي اول پلار دی بل يي زوی دی هغه دريم کس دده دزوی زوی دی يعني لمسی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۰ **سوال:** پر يوديوال عکس زړيږي يوهلک وايې دا عکـــس والا زما دپلار زوی دی مګر زما ورورنه دی ؟

**جواب** : خپل عـــکس يې دی .

۱۷۱ **سوال:** له يکشنبي نه دوه ورځي مخکي اودري ورځي وروسته کومه ورځ ده ؟

**جواب** : پنجــــــشنبه .

۱۷۲ **سوال:** هغه کوم دوولــس دي چې ديارلـــس کيږي نه ؟

**جواب** : دکال دوولس مياشتـــــــي .

۱۷۳ **سوال:** هغه کوم خواږه دي چې خوړل يې روا مــــګرخرڅــــول يې ناروا دي ؟

**جواب** : دقـــــرباني غوښـــــه .

۱۷۴ **سوال:** دهندوانو هديره په کوم مــلک کې ده ؟

**جواب** : هندوان هديره نه لري .

۱۷۵ **سوال:** هغه کوم شی دی چې خوري يې ډيريږي مګر چې نه يې خوري کميږي ؟

**جواب** : روژه .

۱۷۶ **سوال:** داجمله فارسي ته وژباړه ، دالاره کــــــابل تــه تللي ده ؟

**جواب** : ايـــن راه بـــا کـــابل رفـــته اســـت .

۱۷۷ **سوال:** عـــورت دکومي ژبي لغت دی ؟

**جواب** : عــــــربـــي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۸ **سوال:** احـــــمد شاه بابا جيري باچا وټاکل سو ؟

**جواب** : دکندهار ښار دشير سرخ پــه زيارت کـــې .

۱۷۹ **سوال:** دوردګ ولايت دمرکز نوم څه دی ؟

**جواب** : مـــيدان ښـــــار .

۱۸۰ **سوال:** دپټــــي خزاني نومي کتاب ليـــکوال څه نوميږي ؟

**جواب** : مـــحمد هوتـــک بن داؤد .

۱۸۱ **سوال:** تـــذکـــره معـــنا څه ؟

**جواب:** پيـــژندګلوي .

۱۸۲ **سوال:** ميدان ښاردکوم ولايت مرکز دی ؟

**جواب** : رودګ ولايت .

۱۸۳ **سوال:** احمدشاه بابا څو ځله پر هند حمله وکړه ؟

**جواب** : اووه ځله (۷) .

۱۸۴ **سوال:** نوروز دکـــومي ژبي لغت دی ؟

**جواب** : دري .

۱۸۵ **سوال:** په يوه ونه کي لس مرغۍ ناستي دي چي يوه دانه وولي څو داني پاته کيږي ؟

**جواب** : يوه لانه پاته کيږي ، نولي الوزي .

۱۸۶ **سوال:** دافغانستان دمشهورو غـــرو نومونه وښياست ؟

**جواب** : دبابا غـــر ، سپين غـــر ، دهندوکـــش غـــــر ... .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸۷ **سوال:** هغه کوم خواړه دي چې آدم علیه السلام په ټول ژوند نه دي خوړلي ؟

**جواب** : دمـــــور شيدي .

۱۸۸ **سوال:** دافغانستان پلازمـــينه کوم ښار دی ؟

**جواب** : الف) کابل نه دی ب) الف غلط دی.« دغه جز سم دی»
ج) ب غلط دی د) الف او ج غلط دي .

۱۸۹ **سوال:** عیسی علیه السلام په کوم مـــيلادي کال وفـــات سوی دی ؟

**جواب** : نه دی وفـــات سوی .

۱۹۰ **سوال:** کـــوم سابه دي چې ټکی نه لــــري ؟

**جواب** : کـــاهـــو .

۱۹۱ **سوال:** داجمله فارسي ته وژباړی ، زه نن ښه نه يـــم ؟

**جواب** : ايـــن روز من جور نيســـتم .

۱۹۲ **سوال:** داختر په لمانځه کې خطبه دلمانځه مخکي ويل کيــــږي که وروسته ؟

**جواب** : وروستـــه .

۱۹۳ **سوال:** دپښتون ښځه چې پښتو لري سي څه شي پاته کيږي ؟

**جواب** : ســاده د نـــون حــرف ( ن ) .

۱۹۴ **سوال:** ســــلام ويل د مسلمانانو تر منځ څه شي زياتـــوي ؟

**جواب** : مـــينه او محبت .

۱۹۵ **سوال:** لومړی تحريري امتحان چا رامنځته کـــړ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب** : چينـــــايـــــانـــو.

۱۹۶ **سوال:** په مرغانو کې تر ټولو غټې هګۍ کوم مرغه اچوي

**جواب** : شـــــــتر مرغ .

۱۹۷ **سوال:** چرګ دورځې څو هګـــۍ اچوي ؟

**جواب** : چرګ هګۍ نه اچوي .

۱۹۸ **سوال:** هغه څه شی دی چې په بازار کې ډیر دی مګر څوک يې نه اخلي ،چې وايي خلې بيا يې نه استعمالوي که يې استعمل کړی بيا يې نه لري کوي ؟

**جواب** : کـــفن دی .

۱۹۹ **سوال:** دافغانستان کوم ولايت زيات پراخوالی لري ؟

**جواب** : هلمند .

۲۰۰ **سوال:** په انګليسي عددونو کې کوم حرف دانګليسي نه استعماليږي ؟

**جواب** : د سي حرف.

پـــــاي

ددعـــا پـــه هــيله

عصمت الله حقاني

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**